مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۷/۲۴

# خوشعرونه، خویادونه

## څوکرلي تخمونه

## (د مطيع‌الله تراب لومړی‌تلين)

## څلورمه‌برخه

**ترا ب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې تولو پېښو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌ټولنې دغه تولې پېښې يې د خپل ذهن په لابراتوار کې بيا ـ بيا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره يې يوځای کړې دي او پايله يې د شعر په قالب کې بېرته خپلې ټولنې او مخاطبينو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او ټولنې د عيني واقعيتونو او غوښتنو رڼه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعري د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر يوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

(آصف بهاند)




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتو اخر هم د مجبور وزیرستان ژبه شوه
پښتو په لوی‌لاس د ملا او طالب‌جان ژبه شوه
حمزه ویل: زه به د پښتو سره جنت ته ځمه
زه بـه د واړه‌گناهو سره جنت ته ځمه
زه په کې وسوم په پښتو کې مې پوښتی ماتې‌شوې
پـه خپل انګړ او خپلو غرو کې پوښتی ماتې شوې
https://www.facebook.com/reel/954479114207723

چا چې دې ملک سره جفا کړې ده
چا چې په لویشت مځکه سودا کړې ده
د ژوندو مړو يې نوکور صندوق شه
ته وا قبرونه يې د اور صندوق شه...
https://www.facebook.com/reel/1488251536652000

ما ځان ايره کړ، تر رجړومي و سلايي درغلم
خو تا په سترګو پورې نه‌کړم، جوړ رانجه نه‌ومه
تا د پیشو غوندې رقیب کړ څوکیدار د غوښې
زه به بیا هم درتلمه، بیا به‌هم خپه نه‌ومه؟
بیا په دار وخیژې سپوږمۍ، تندر دې بیا ونیسه
ته راختلې وې چې زه په هغه شپه نه‌ومه
https://www.facebook.com/reel/1320946103347890

ما ډاروۍمه، زه پوهېږم چې خطر به وخورم
ما سرخوړلي، سرخوړلی دی، څه سر به وخورم
دا سر په دومره اطاعت او دیپلوماسی نه‌ارزي
دا ژوند په دومره سرټیټی و چاپلوسۍ نه‌ارزي
https://www.facebook.com/reel/989376834072895

د ژوند راپېښنه مو پر خپلو اوږو بار پرته ده
خدای خبر نور مو تر مخ څومره اوږده لار پرته ده...
**https://www.facebook.com/reel/1039045400933124**

یو چا ته ځم، شپه ترناوخته راته غوږې کوي
ما ته د ښار لوی اوستاکار ځینې خبرې کوي...
دا اوستاکار وايي: دا بارې ما بار بار ایښي دي
د دې ښارونو بنیادونه زما پلار ایښي دي...
**https://www.facebook.com/reel/1855959384927526**

څنګه يې هېرکړم، ما نې سل ـ سل پسرلي خوړلي
پښتونستان زما ځلوېښت‌زره‌زلمي خوړلي
خرڅ شوی‌سر د ازادۍ په قیمت څه پوهېږي...

https://www.facebook.com/reel/2141340376803295

ولې بې نهستايمه، ولې به ترې نهځارېږم
پرونو تللو ته و نن راغلو ته پښتون ولاړ دی...
https://www.facebook.com/reel/2350602112135655

پرون شهکار وم چې روسان مې له خیبر منع کړل
له سند او هند، له فارس خلیج، له سمندر منع کړل
نن وحشتګر او دهشتګر او ترهګر يادېږم
نن ولې ـ ولې بعضې بعضو ته خطر يادېږم؟
https://www.facebook.com/reel/1329217351969690

دا د بنېرو، ښيرې ګرېوان نه حيا نهدرځي نور
تاسو او خدای د افغانستان نه حيا نهدرځي نور...
**https://www.facebook.com/reel/2157319614642022**

هغه ویل تنقید بنه دی د اصلاح لهپاره
خو نه کول هم تر دې بنه دي د فلاح لهپاره...
**https://www.facebook.com/reel/852155069671593**

ګوره زلمیه په ځان ترس وکړه لږ رحم وکړه
څه نابلدو کړلیچونو کې به وغورځېږي
دا وطن برخې لرې، لارې لرې، ګارې لرې
زلمیه دلته هلاکو او چنګیزخان هلاکـشول
دلته مرۍ د ګرګین پرې شوه، انګریزان هلاکـشول
د مغولیانو و سقاویانو نه تنی پاتې دي
همدې ګردونو کې پرون دلته روسان هلاکـشول...
**https://www.facebook.com/reel/3749104532016273**

د ژوند قصه تمامه نهده،
راته منزل ـ راته مورچل پاتې دی
چیرته به خلکو بېوصیته مرمه
د کوم مابنام، د کوم دیوال غاړې ته
جنګ، تجارت او کاروبار جوړ شوی
سرونه خرڅ شول د وړيو په تول
تول ته هم داسې منصفان ناست دي
وینهڅکي او بیا قیمت لګوي...
**https://www.facebook.com/reel/1216395046243770**

د کتابونو چاپکولو باندې کار نهکېږي
د اخبارو په مفتویشولو باندې کار نهکېږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترڅو چي ژبه رسمي نه کو په دربار باندي
ترهغي پوري به کښېنم په کرار باندي
https://www.facebook.com/reel/985086354130595

مست پسرلی چي د سپنغر لمن کي وغځيدو
ليوني خيال مي په غزل کي غځوني وکړي

**https://www.facebook.com/reel/408024149025368**

نوري خبري به پستي وي او رنګيني به وي
زما خبري لړي سختي دي، خو سپيني به وي
درپاتي شوي دا خاني به ګورئ ونه‌پالئ
دومره قوي مسلماني به ګورئ ونه‌پالئ...
**https://www.facebook.com/reel/8372427626156332**

حج، عمره، تهجود، اشارک او تلاوت کړي
ځان ښودلو ته درګرده سخاوت کړي
په توبو پسي، توبو باندي ختل دي
سجدی نه دي، د تنديو ماتېدل دي
د خپل ورور غوښي هډوکي کباب هم خوري
وينه هم ښکي، زمزم هم ښکي شراب هم خوري...
**https://www.facebook.com/reel/378757525036511**

ما د يوجمهور تر مخه هم سپين بغاوت کړی
ما د ظالمانو نه تل کرکه او نفرت کړی
ما په سپين‌ميدان د هر غاصب مخ ته جرأت کړی
ما په سر نه دی، ما پر زړونو حکومت کړی
https://www.facebook.com/reel/1332873578360306

لاخوبه زه د زورور له زوره نه‌يم خبر
لابه پرځان له لګيدلي توره نه‌يم خبر
دا چي ما کړي د دې ګټې پر تاوان دې خوار شم
که به د ځان له‌پاره وايم، نو پرځان دې خوارشم...
**https://www.facebook.com/reel/1378401383549113**

خلک لګيا دي موږ له دی خپلی نقشي اوباسي
پښتنو وبښ شئ، موږ د ځمکي له ګُرې وباسي
څو چي ژوندی هم يوپښتون وي د دې ځمکي پرسر
آ به د دې خاوري مجنون وي د دې ځمکي پرسر
ګرېوان مي پرېږده، که پرځان دي خپل ګرېوان لورېږي
دومره مي ووهه چي څومر دي پرځان لورېږي...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

https://www.facebook.com/reel/959793586161278

ما اورېده چي تا ويل هغه، ويده نهومه
رقيب چي هرڅه وايي ـ وايي بهيي، خو زه نهومه
تا ناري وکړې چي د شپي ناوخته ډزېوشوې
زه لګېدلیوم، پرزغره، خو په زړه نهومه
ما يو سپينقتل وکه، زه يوسپين قاتل وويشتم
چي دی به خنګه و، خو زه هغهشپه ښه نهومه...
https://www.facebook.com/reel/1077848994216947

سترې د خپل ژوندون له باره، بلاسترې يمه
زما د ګناه پېټی خرواره، بلاسترې يمه
ترې مزله، ترمنزله شايد ډېره لار وي
لاس راکوه لوېږم پر لاره، بلاسترې يمه
ليونو راشئ ګرېوانونو کي مو زړونه تنګ دي
درسره وزم له دې ښاره، بلاسترې يمه
https://www.facebook.com/reel/1002745528592159

ودي وايي که په ښکاره څوک يې په غلا راکوي
طالب، حکومت، کوم سفارت ماله تنخوا راکوي
په ورځو ـ ورځو که نرۍغوښه يا غټه خورمه
والله تراوسه د تناکو لاسو ګټه خورمه...
https://www.facebook.com/reel/1993736897827715

زما تورزنه، شمشيرزنه باهمته پلاره
بيرغ دي خان، شمله دي هسکه ترقيامته پلاره
دغه خوږه اوږده قصه شپه ترسحره وکه
ما ته زما د ازادۍ قصه له سره وکه...
نه چا په سوال، نه چا سوغات کي ازادي راکړې
نه چا خيرات، نه چا ذکات کي ازادي راکړې
دا په خپل کور کي لاس ترزني ميلمانه څه کوم
زه ګولېيسري، شلغم سري پښتانه څهکوم
https://www.facebook.com/reel/753285860530220

پښتون پنځوس کاله د بل ديوال ته ختي وکړې
وخت او حالاتو ترېنه خپلي خپلي ګټي وکړې
موږ هغه قوم يو سر شيندلو ته څوځله وزو
سياست پر بل کوو، د جنګ ميدان ته خپله وزو
https://www.facebook.com/reel/4534207983468147

چا چي دې ملک سره جفا کړې ده
چا چي په لويشت ځمکه سودا کېده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

https://www.facebook.com/reel/2775768842623637

ما ته وايي: مړ به شي، بندي به شي، ټکر به وخورې
وه ليونيه سپيني مهوايه، خپل سر به وخورې
وخت بدل شوی دی، زړې خبرې هيرې کړه نور
ته لوی سړی يې، اوس وړې خبرې هېرې کړه نور
ښنګه يې هېر کړم، ما نهيي سل سل پسرلي خوړلي
پښتونستان زما ځلويښت زره زلمي خوړلي
https://www.facebook.com/reel/24540097798941462

ولس پخلا کړئ، ګورئ داسې حکومت نهجوړيږي
دا بنياد کوږ دی او پر دې امارت نهجوړيږي:
https://www.facebook.com/reel/3980962455489462

پاکستان دا وارې يوبل اسلاماباد جوړوي
هغوی درګرده زموږ په وينو اقتصاد جوړوي:

https://www.facebook.com/reel/900849288663780

نوربيا
د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ